محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

# ۱۱۰

# محسن تفسير

له قرآنه يو څرک

Ketabton.com

## ۱۱۰ـ د «نصر» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسين «عنايت»

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نصر سورت تشريح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين الله په نامه

سورةالنصر

## د نصر سورة (۱۱۰)

سريـــزه: د «نصـــر» ســـورت مـــدني دی (۳) آيتونـــه يـــوه رکـــوع لـــري پـــه تـــلاوت کـــې (۱۱۰) او پـــه نـــزول کـــې (۱۱۴) ســـورة دی چـــې د «توبـــه» لـــه سورة څخه وروسته نازل شوی دی.

ددې ســـورة نـــوم «نصـــر» د هغـــه لـــه لـــومړني آيـــة [إِذَا جَـاءَ نَصْـرُ اللَّـهِ وَالْفَتْحُ] څخـه اخيسـتل شـوی دی. کـابو ټـول مفسـرين پـر دې متفـق او يـو لاس دي چـې دا سورة پـه مدني دور کـې نـازل شـوی دی نـو د سـورة مـدني والـی جـوت دی او لـږ تـر لـږه دا هـم جوتـه ده چـې دا سـورت د پيغمبـر(ص) د عمـر د پـای پـه دوه درې وروسـتيو کلونـو کـې نـازل شـوی دی. خـو د مفسـرينو تـر منځ يـو اخـتلاف شـتون لـري هغـه دا چـې آيـا دا سـورة د مکـې لـه فتحـې مخکـې نـازل شـوی دی يـا د مکـې لـه فتحـې وروسـته؟. ځينـې مفسـرين مـدعيان دي چـې دا سـورة د مکـې لـه فتحـې وروسـته، حتـا پـه منـا کـې پـه حجـةالوداع کـې نـازل شـوی دی يعنـې د پيغمبـر(ص) تـر رحلـت کـابو درې يـا څـه کـم درې مياشـتې مخکـې نـازل شـوی دی. خـو ډېـری لـه مفسـرينو پـر دې نظـر دي چـې دا سـورة د مکې له فتحې مخکې يا د مکې د فتحې په بهير کې نازل شوی دی.

خـو دا کـورټ جوتـه ده چـې دا سـورة د پيغمبـر(ص) د عمـر پـه وروسـتيو کلونو کې نازل شـوی دی. کـه وغـواړو چـې لفظـي قرينـه يـې پـه نظـر کـې ونيسـو، د «إِذا جاءَ» پـه قرينـه بايـد ووايـو چـې دا سـورة د مکـې لـه فتحـې مخکـې نـازل شـوی دی، همـدا راز پـه «اَلْفَـتْح» کـې د الـف او لام موجوديـت ددې حقيقـت پـر لـور نغوتـه کـوي چـې لـه دې څخـه مطلب

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژمن کړل شوې او راتلونکې فتحه ده چې د الله له لورې رسولانو او د هغه ملګرو ته د الهي سنت تقاضا ده، چې الله تعالی له هغوی سره وعده او ژمنه کړې ده. سربيره پر دې د سورت متن او منځپانګه هم همداسې څرګندوي چې د سورة د تشريح په بهير کې به دې موضوع ته په مشرحه توګه نغوته وکړو.

## له مخکيني سورة سره اړيکه او د سورة د منځپانګې چورليځ:

د [قريش] سورة وروستي آيت د پيغمبر د دښمنانو پر بې پايلو او پرې شوو هڅو ټينګار درلود [ان شانئک هو الابتر]، او وروسته سورة [کافرون] د هغوی پر وړاندې د پيغمبر د څرګند او کلک دريځ اعلام ته ځانګړی دی. پر دې ترتيب د بعثت په لومړي کال کې، رسول اکرم(ص) ته دنده ورکول کېږي چې له شرک ککړو طريقو او روشونو سره سازښت او له پليويانو سره يې پر لارې تګ په ډاګه رد او ورسره کلک مخالفت څرګند کړي. او د توحيدي تعبد او د ګوډ - آړه ايز تعبد تر منځ د بېلښت يوه بريښنده او څرګنده ليکه وکاږي.

معمولاً هر يو نهضت د خپل کار په پيل کې په تدريج او ورو ورو هر څومره چې د پښې ايښودو ځای مومي او پر څواک او د ملاتړ پر ټولي يې ورزياتېږي، د حاکم نظام سره مخالفتونه ښکاره کوي او ورو ورو په جِدي، تکړه او څرګنده توګه يې پر وړاندې دريځ نيسي. په داسې ډول چې دې پړاو ته له رسېدو مخکې، له هر ډول اصولي مخالفته ځان ساتي او کوښښ کوي په موازي توګه د خوځندي، کښېدونکي پروت په توګه د خپلو موخو پر لور يون وکړي. خو وينو چې پيغمبر اکرم(ص) ددې نهضت [او غورځنګ] په پيل کې، په داسې شرايطو کې چې تر ډېرو سختو فشارونو لاندې وو، فرمان مومي خپله وروستۍ پاياني او څرګنده خبره له هماغه پيله وکړي او له آره او

(c) ketabton.com: The Digital Library


رېښـــې د مشـــرکينوله اعتقـــادونو سره مخالفـــت وکـــړي.« قُـلْ يَـا أَيُّهَـا الْكَافِرُونَ. لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ »

څرګنده ده چې دا ډول لمسوونکی او پاروونکی سخت درېځ په طبيعي توګه بې ځوابه نه وو او د مشـرکينو بنسټيز او رېښه يي تعصبونه يې پـارول او پخپلـه د پيغمـبر(ص) او د ورسره ملـو مؤمنينـو لپـاره هـم، د نهضـت د راتلـونکي او د هغوی د بريا په اړه، يو ډول انديښنه او تشويش رامخته کېده، په داسې حال کې چې پخپله ددوی شمېر هم ډېر لږ وو او د ګوتو په شمېر خـو کسـان ول او د مشـرکينو د بې شمېره ځواکمنو مشـرانو او هغوی ته د لاس پـه نامـه وګـړو ستړې ټولنې پر وړاندې يې قرار درلود، او په اټکليزه توګه دا پوښـتنه مطـرح کېده چې څه ډول کېدی شي دا ستونزې او خنډونه بـه لـيرې شي او خلـک به په آزادانه توګه د خدای دين ته وارد شي او الهي نصـرت او بريا بـه کلـه او څه ډول رارسېږي ....؟

د «کافرون» سورة پسې د «نصـر» سورة ځای پر ځای کېدل د هغـوی د نـزول د کال په پام کې نه نيولو سره چې د مفســرينو پـه وينـا د دواړو د نـزول تـر منځه اوږد واټن دی، [ د کافرون سورت د بعثت په لومړيو کلونو کې په مکـه کې نـازل شوی دی، په داسې حال کې چې ډېری له مفســرينو د «نصـر» سـورة د مـدينې د دوران پـه وروستيو کلونو پورې اړوند ګڼي.] ددې پوښتنې ځواب [لږ تر لږه له پيغمبره د وروسـته نسلونو او د قرآن د لوستونکو لپـاره ] ورکوي چې که حق لږ [قليل ] هم وي، د ذاتي اصالت او برترۍ له لامله، وده موندی او په پای کې بريالی دی او که مؤمنين د کافرانو د برلاسۍ او ظالمانه غلبې له لامله پـه ضـعف او ذلـت کـې دي، ورو ورو پورې په پورې د ايمان او د هغـوی د عمـل پـه ځـواک، خنډونـه تـرې لېرې کيږي او د کفر د سروالو او مشـرانو د ځـواک او برلاسـيو د ديوالونـو لـه نړېدو سره سم، د الله بندګان ډلې ډلې او پوځ پوځ د هغه دين ته داخليـږي. په داسې حال کې چې د قرآن دوه پايانۍ او وروستنۍ برخې [پـارې ] مکـې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سورتونو ته ځانګړې دي او د هغوی په ۴۷ سورتونو کې په ندرت کوم مدني سورت ليدل کېږي، هرومرو کوم لامل شتون لري چې د «نصر» سورة [له دې فرض سره چې مدني والی يې جوت ومنو] د دوو داسې سورتونو تر منځ يې ځای نيولی دی چې له هغوی سره شل کاله د نزول توپير لري. ـــ [د «سير تحول قرآن» کتاب؛ له دې وروستيو دوو پارو يوازې دوه سورتونه عصر او نصر مدني ګڼلي، او ځينو مفسرينو د انسان، بينه، زلزال، او ناس سورتونه هم مدني ګڼلي دي. د «سير تحول قرآن» کتاب ۱۵ ګڼه جدول د «نصر» سورت په ۹ لېږديز کال کې نازل شوی ګڼي او د کافرون او مسد سورتونو نزول د بعثت په دويم او دريم کال پورې اړوند ګڼي].

په هر حال کې د خدای تعالی له نظره چې د نور او زمان خالق او پنځوونکی دی او د وخت تقدم او تأخر د هغه د ذات لپاره شتون نلري، د نصر سورة ځايګی له کافرون سورة څخه وروسته دی او د الهي نصرت د قطعي قانونمندۍ او پر کافرانو د مؤمنينو پر فتح او بري د تل لپاره ټينګار کوي. د «نصر» سورة له «کافرون» سورة سره بل مشترک فصل هم لري چې د «دين» په موضوع کې دی. د «کافرون» سورة له دې آية سره پای ته رسېږي چې: «لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ». خو کله چې الهي نصرت او فتح راغله او د ايمان له مخې خنډونه لېرې شول او د کفر پردې اخوا شوې، د «حق دين» لمر ځلېږي او «باطل دين» نشت کېږي په دې ډول چې: «وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا».

په دې سورة کې الله تعالی خپل استازي حضرت رسول اکرم(ص) ته د سوبې او مرستې ژمنه کوي، او خبر ورکوي چې ډېر ژر به هغه ووينې چې؛ خلک به ډلې ډلې اسلام ته داخلېږي، او ورته فرمان ورکوي چې ددې الهي مرستې او فتحې په شکرانه کې، د خدای تسبيح وکړي او حمد ووايي او استغفاروکړي. او دا سورة د څرګندو قرينو له مخې چې نغوته به ورته وشي په مدينه کې د حديبيه له سولې وروسته او د مکې له سوبې مخکې نازل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

| | |
|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾ | نَصْرُ اللَّهِ = [د دښمنانو په مقابل کې] د خدای مرسته، د الله یاري، د الله نصرت ، د خدای تعالی مدد ـ الْفَتْحُ= [دمکې] فتحه، سوبه، بری ـ رَأَيْتَ = ووینې - النَّاسَ= خلک، ولس، وګنې، عوام ـ دِينِ اللَّهِ= د الله دین، د الله قانون ـ أَفْوَاجًا = پوځ پوځ، ، ډلې ډلې، ټولې ټولې ـ سَبِّحْ = پاک او سپېڅلی وګڼه، په پاکی یاد کړه ـ بِحَمْدِ = له ستاینې سره ـ رَبِّكَ = خپل رب دې، پالونکی ښتن دې ـ اسْتَغْفِرْهُ = له هغه ښښنه وغواړه، له هغه مغفرت وغواړه ـ تَوَّابًا = ستر توبه منونکی، ښه توبه قبلوونکی، ډېر توبه قبلوونکې ـ |

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾

کله چې د الله مرسته[1] او [پر باطلو د حق] بریا راشي،[2]

وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾

او ووینې چې خلک ډلې ډلې د الله دین[4] ته ننوځي،

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾

نو [هغه مهال] خپل پالونکي ښتن دې له ستاینې [او شکرانې] سره په پاکی یاد کړه[5] او له هغه ښښنه وغواړه[6] بېشکه چې هغه [الله] ښه توبه منونکی دی.

| إِذَا | جَاءَ | نَصْرُ اللَّهِ | وَالْفَتْحُ |
|---|---|---|---|
| کله چې | راشي | د الله مرسته | او فتح، بریا |

| وَرَأَيْتَ | النَّاسَ | يَدْخُلُونَ | فِي | دِينِ اللَّهِ | أَفْوَاجًا |
|---|---|---|---|---|---|
| او ووینې | خلک | چې ننوځي | په ... کې | دین د الله | ډلې ډلې |

| فَسَبِّحْ | بِحَمْدِ | رَبِّكَ | وَاسْتَغْفِرْهُ | إِنَّهُ | كَانَ | تَوَّابًا |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نو په پاکی یادوه | له ستاینې سره | خپل پالونکی | او ترې ښښنه غواړه | بېشکه هغه | دی | ښه توبه منونکی |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سورت د مفرداتو لنډه تشريح:

۱ ــ د «إِذَا» شرط، نصرت او برياليتوب په مؤمنينو کې د وړتياو او قابليتونو په تحقق پورې اړين او مشروط کوي چې خدای تعالی د هغوی لپاره زمينه او ډګر د انسان په ضمير کې ايښی دی. په واقعيت کې نصرت دوه اړخيزه چاره ده چې په ځانګړي مهاليز ظرف کې له اړين چمتووالي سره واقع کېږي. دا شرايط کېدی شي له قرآنه په څو بندونو کې استخراج شي:

الف ] خدای تعالی هاغو کسانو ته نصرت ورکوي چې خدای تعالی ته [حق ته] نصرت ورکړي: «...إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ...» [محمد ۷ (۴۷:۷)].

ب ] له خدای سره ياري او مرسته کول، عبارت ده له؛ د خدای له رسول(ص) او د مؤمنينو سره ياري او مرسته کول. [صف ۱۴ (٦۱:۱۴)].

ج ] د خدای د نصرت شرط مسلحانه دفاع ته چمتو کېدل دي [بقره ۱۹۳ (۲:۱۳۹)، انفال ۳۹ (۸:۳۹)، توبه ۱۴ (۹:۱۴)] .

د ] الهي نصرت د مقاومت له سختو او ستونزمنو پړاوونو وروسته رسېږي [يوسف۱۱۰(۱۲:۱۱۰)، بقره ۲۱۴ (۲:۲۱۴) او ۲۷۳ (۲:۲۷۳)].

هـ] الهي نصرت پرله پسې او دوامدار دی [روم۴۷ (۳۰:۴۷)، آل عمران ۱۳(۳:۱۳) او حج ۱۵(۲۲:۱۵)].

و ] الهي نصرت، د قلبي آرامتيا ، روحي تقويت، برياليتوب ته له زيري، د ګامونو له ټيکاو [پايمردی] او ددې په څېر نورو له لارې دی چې غيبي امدادونه انګېرل کېږي [بقره ۲۵۰ (۲:۲۵۰)، آل عمران ۱۲۵ (۳:۱۲۵) او ۱۲٦، انفال ۱۱ (۸:۱۱) او ۱۲، محمد۷(۴۷:۷)، فتح ۴ (۴۸:۴)].

۲ ــ مسلمانان د پيغمبر(ص) په رهبری د ستمګرانو په مقابل کې په ځلونو څرګندو برياليتوبونو ته رسېدلي ول، خو ډېری له مفسرينو په دې اړه په يو نظر دي چې دا فتح [له معرفه او معهود الف او لام سره] هماغه د مکې فتحه ده چې د عربستان د ټاپووزمې زړه ګڼل کېده او د مشرکو قبيلو له بُتانو څخه د مکې له پاکېدو سره پر يو خدای د خلکو د ايمان خنډونه اوچت شول او د ستونزو غوټه پرانيستل شوه [د فتح معنا].

۳ ــ په هر يوه مقاومت او مبارزه کې کمّي تغييرات په پيل کې ورو او نا محسوس وي او د ستمګرانو مخالفتونه او خنډونه د پرمختګ مخنيوی کوي، خو د خلکو له صبر او

(c) ketabton.com: The Digital Library


استقامت سره، ورو ورو په تدريج لکه په سلو درجو کې د اوبو نابېره په ځوښ راتلل او تبديلېدل يې پر متصاعد بخار، کميّتي تغييرات هم بېره مومي او شدّت اخلي، کله تر پرونه يو شمېر کسانو له وېرې او ترديد سره او په غلي او پټه توګه د اسلام اظهار کاوه، د مکې له فتحې سره او له مات شوو بُتانو څخه د مشرکينو په نهيلۍ او له شرک او تقليده د هغوی په شرمنده ګۍ، د قبيلو د مشرانو او رئيسانو له اسلام راوړلو وروسته، د هغوی پليونانو او متابعينو پوځ پوځ اسلام ته مخه کړه چې د زماني په تېرېدو سره په تدريج او پوړۍ په پوړۍ د هغوی په زړونو کې ايمان وارد شي [حجرات۱۴(۴۹:۱۴)].

۴ ـ د دين اصلي معنا، د نيکو او بدو عملونو جزا او کيفر دی، همدا راز د هر هېواد نظامونو او مقرراتو ته هم دين ويل کېږي چې په توسه يې ښارمندان تر نياو لاندې نيول کېږي. د قرآن په اصطلاح کې «دين الملک» د هېواد اساسي قانون ته ويل کېږي، چې پاچايان يې جاري کوونکي ول [يوسف ۷٦(۱۲:۷٦)]. د ښوونځيو او پوهنتونو ښوونيز نظام چې د هغه پر بنسټ د هر زده کړيال د زده کړې پايله [او چار ليک] ټاکل کېږي، د «دين» د معنا د پوهېدو لپاره يو ساده مثال دی.
د ۱۰۲ موردونو له منځه چې د دين د کليمې م شتقونه په قرآن کې راغلي دي، د «دِينِ اللّه» اضافه په غير له دې آيته په دوو نورو آيتونو کې راغلي ده: نور ۲ (۲۴:۲) – « ... وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ ... » او آل عمران ۸۳ (۳:۸۳) – « أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ... » د خدای دين همدا د هغه فرمانونو ته تسليم دی [آل عمران ۱۹(۳:۱۹)] چې حق دي [توبه۳۳(۹:۳۳)] او بايد له شرکه خالص وي [زمر۳(۳۹:۳)، يونس ۱۰۵(۱۰:۱۰۵)، بقره۱۹۳(۲:۱۹۳) او انفال ۳۹ (۸:۳۹)].

۵ ـ د ربّ له حمد او ستاينې سره تسبيح؛ د مرحوم طالقاني په وينا، د تسبيح عاليترين پړاو دی چې د هستۍ د عالم د ارباب له حمد او ستاينې او د هغه د ښکلا او کمال او د بې عيبوالي او بې نقصوالي پر نسبت له لېوالتيا څخه پيدا کېږي. د تسبيح عمل، په دې سمفونۍ [Symphony] کې م شارکت او د هستۍ د عالم په ستر ارکستر [Orchestra] کې مثبت نقش لوبول دي. له حمد سره د ربّ له تسبيح څخه عاليتر، د ربّ العظيم په نوم تسبيح [واقعه۷۴ (۵٦:۷۴) او حاقه ۵۲ (٦۹:۵۲)]، او د ربّ الاعلی په نوم تسبيح دي [اعلی۱(۸۷:۱)] چې په زړه او ليد کې د ربّ عظمت، عالي توب او ستروالی مجسم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


٦ ـ د نورو بندګانو په نسبت له پيغمبرانو څخه د خدای تعالی انتظار په څلونو زيات دی، پر دې بنا، سره ددې چې هغوی په پوهېدنې او عمدي توګه ګناه او نا فرماني نکوله، اما د «حَسَنَاتُ الأَبرارِ سَيِّئَاتُ المُقَرَّبين» په مصداق [د نيکانو نيکوکاري د مقرّبانو لپاره ګناه ګڼل کېږي]، هر ډول ترک أُولی [د آسانتر کار ترجيح]، تعجيل او يا هغوی ته لنډه يا ډېره وړه نه پاملرنه ذنب يا ګناه ګڼل کېده او دا خبره په قرآن کې ډېره زياته د ډيريو پيغمبرانو په اړه ليدله کېږي. اصولا د انبيائو په اړه د قرآن لحن د تمجيد او تجليل او تعظيم څخه زيات د تذکر، تنبيه او حتا په ځينو موردونو کې د توبيخ لحن لري! د اسلام د مکرم رسول(ص) په اړه پر دې سورة سربېره، په اوو نورو سورتونو کې هاغه مکرم رسول ته – د هغه له ستر مقام سره سره – امر په استغفار شوی دی [محمد۱۹ (۴۷:۱۹)، مؤمنين ۱۱۸ (۲۳:۱۱۸)، تحريم ۸ (٦٦:۸)، نساء ۱۰٦ (۴:۱۰٦)، فتح ۴۸ (۴۸:۴۸) او غافر ۵۵ (۴۰:۵۵)]. سربېره پر دې نور ګواښونه لکه: «عَفَا اللَّهُ عَنْكَ ... » [توبه ۴۳ (۹:۴۳)]، « يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ... » [تحريم ۱(۱:٦٦)]، «...فَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ » [انعام ۳۵ (٦:۳۵)]، « يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ ... » [احزاب۱(۳۳:۱)] او داسې نور... چې د رشد، ودې او کمال او ډېرې پاکۍ لپاره د تذکر او هشدار له طريقه، هاغه حضرت ته د خدای تعالی په ځانګړې پاملرنې دلالت کوي.

داسې برېښي چې دا ځانګړی استغفار، د جنګ په ډېرو هيبتناکو شرايطو کې د الهي نصرت د غوښتنې لپاره د اندک تعجيل له لامله وي چې د بقره سورة (۲:۲۱۴) په ۲۱۴ آية کې ورته اشاره شوې ده: «...مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ». دا ډول يو تزلزل، بلکې شديدتر له دې، قرآن د قريشو او وحشي قبيلو په توسه له څو چنده جمعيت سره د مديني په محاصره کې قرآن د مؤمنانو د حال په وصف کې بيان کړی دی: «هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا شَدِيدًا» [احزاب ۱۱(۳۳:۱۱)]

## د نصر سورت له لومړي تر دريم [۱ ـ ۳] آيتونو بشپړه تشريح:

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ کوم مهال چې د خدای تعالی نصرت ورسېږي. چې دلته «اذا» د شرط «اذا» دی. چې د «اذا» کليمه په راتلونکي کې په ظهور دلالت کوي او تقاضا يې داده چې د آية مضمون به د داسې چار خبر وي چې لا تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوسه پېښ شوی نه دی او ډېر ژر پېښېدونکی دی، او څرنګه چې د مرستې او فتحې چار دی، نو په نتيجه کې تر بحث لاندې سورة يو زېری دی چې الله تعالی پيغمبر ته ورکړی دی. دا د الله تعالی مرسته او بری دی او خدای تعالی هغه رامنځته کوي، پايلې او حاصل ورکولو ته يې هغه مهال ورانديې کوي، په کوم مهال کې چې خدای تعالی هغه مقدّر او مقرّر کړی دی، هغه هم په داسې بڼه چې څنګه يې الله تعالی غواړي، او د کومې موخې لپاره چې هغه انځور کړی او ټاکلی دی.

خو د الهي نصرت په اړه بايد ووايو چې ولې په هر مهال کې [وخت په وخت] د خدای تعالی نصرت نه راځي؟ خدای تعالی پيغمبران رالېږلي او هر يو ته يې رسالت په غاړه کړی وو خو هغوی د ورسپارل شوي رسالت په سر ته رسولو کې هر يو ډېرې زياتې ربړونې او ځورونې ولېدلې او ډېرې ستونزې يې وګاللې، پخپله زموږ پيغمبر(ص) کوم ديارلس کلونه چې په مکه کې وو ځومره ربړ او رنځ يې وګاله او همدا راز ورسره ملو مؤمنينو، د هغه حضرت اصحابو او ملګرو ځومره ستونزې وګاللې، او وروسته هم په هاغو غزاګانو او جنګونو کې چې سر يې مات شو، غاښ يې مات شو او ځومره ډېر مؤمن او مسلمان ياران يې تر شکنجې او ربړونې لاندې ووژل شول، ځور او کړاو يې وليد، له خپل کور او ژونده وايستل شول او وروسته هم چې هر څه يې درلودل د ټولو پرېښوولو ته مجبور شول او هجرت يې وکړ؛ ښه، نو ولې خدای تعالی له پيله هغوی سره مرسته ونکړه؟ يو پيغمبر يې لېږلی او کتاب يې نازل کړی او کولی يې شول اصلاً اجازه ورنکړي چې پيغمبرانو ته څوک څه ووايي او لږ شان مخالفت هم ورسره وکړي او حتا څوک ورته ووايي، په مخ مو ځو سترګې دي، يا د سترګو له پاسه مو ورېځې دي. ولې خدای تعالی دا کار ونکړ؟ مګر نه يې غوښتل استازي يې بريالي شي؟ وسمهال هم دا پوښتنه په بل ډول مطرح کوي: دا چې ځينې خلک وايي؛ دې اوضاع او

(c) ketabton.com: The Digital Library


احوال ته وګوره، دا وګوره چې خلک د خدای په نامه راز راز کارونه کوي، ځينې خو لا دا هم وايي؛ اصلاً خدای چرته دی؟ کوم خدای؟ که وای په دا ډول به څوک، د هغه په نامه د خلاف او خطا نه مرتکب کېدی. ـ [العياذبالله] ـ دا ډله انګېري چې خدای تعالی زموږ پر سر ولاړ دی چې هيڅ ګناه او خطا له موږ ونشي او مؤمنانو ته، لکه د پلار په څېر چې ددې ناسمو، بېلارو او چاپلوسو بچو پر سر ولاړ وي او پاملرنه پرې وکړي چې هيڅ نقص هغوی ته ونرسېږي! نو کوم ځای خدای تعالی داسې يوه وعده او ژمنه کړې؟ منکران چې پوښتنه کوي نو کله به راځي! هر مهال چې وخت يې راورسېږي: «إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ». هر مهال چې هغه برى او فتح راشي، الهي وعده به عملي شي او الهي مرسته او نصرت به راشي. دلته د الله د مرستې او فتحې ذکر چې له کوم ځانګړي اهتمام سره شوی دی او له دې وروسته چې حضرت رسول اکرم(ص) ته د حمد او تسبيح لپاره کوم هدايت ورکول شوی دی دا ددې خبرې دليل دی چې له دې څخه مقصد کومه عامه مرسته او فتحه نه ده بلکې هاغه مرسته او فتحه ده چې له الهي سنت سره سم رسولانو ته د هغوی د دښمنانو پر وړاندې په داسې مهال کې حاصله شوې ده چې د الهي پيغام په رسولو کې يې خپل ټول ځواک زېښلی او نښتېځلی دی. او د رسول خپل قوم او ولس د هغه په دروغ ګڼلو او دښمنۍ کې تر دې بريده مخکې لاړل چې دا تمه نوره پای ته رسېږي چې ددوی په رويه او چلن کې به کوم بدلون راشي، او د حق لور ته به مخه کړي.

نو ددغې پيغام او الهام، او ددې ځانګړي نرۍ ليد پر بنا چې دا پيغام او الهام يې د کار او کړنو حقيقت تشکيلوي، او د پيغمبر(ص) او له هغه سره د ملو کسانو د کار بنسټ ګڼل کېږي، د هغوی پر لاسونو د الله د مرستې او برې په پلي کولو سره، د هغوی اکرام،حرمت او درناوی تشخيص او ټاکل کېږي. چې د بريا پر مهال د پيغمبر(ص) او له ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ملو کسانو کار، الله تعالی ته له تسبيح، ستاينې، حمد، تقديس او شکر سره مخ کونه او د ښښنې او مغفرت غوښتنه ده.

## د «نصرالله» د رسېدلو شرايط او چاپېريال:

لکه څنګه چې مو ووېل؛ ددې سورة لومړی آية «إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ» د «اذا» د شرط له ظرف سره، الهي نصرت په زمان او ځانګړو شرايطو پورې مشروط کوي چې بايد تحقق ومومي. لکه څنګه چې څرګنده ده، هيڅ ښکارنده تر هاغې نه رامنځته کېږي تر څو يې چې د پيدايښت لاملونه او علتونه، موجبات او اسباب چمتو شوي نه وي، چې په حقيقت کې همدا الهي نظام دی. دا حقيقت د هاغو کسانو لپاره ځواب دی چې وايي د هاغه خدای لپاره چې مطلق قادر دی څه مخنيوی لري، مخکې له دې چې مؤمنين په آزار او شکنجې کې دوچار شي او ځينې يې شهيدان شي، له ربړ آزار او ستونزو زغملو پرته يې بريالي کړي. په دې سورة کې يې يوازې د «اذا» په شرط چې مبهم او مجمل دی بسنه کړې، په نورو سورتونو کې يې دا شرط له ډېرې شرحې او تفصيل سره توضيح او بيان کړی دی. ددې ارزښت لري چې له يوې اجمالي پلټنې سره ووينو چې بايد څه عمل سر ته ورسوو او څه پيليزې برابرې کړو چې الهي نصرت زموږ په حال کې شامل شي. سربېره پر دې، الهي نصرت څه ډول يو نصرت دی او څه راز ميکانيزم لري؟ آيا مرموز ځواکونه په جنګ کې شرکت کوي او دښمن ترټي او ورته ماتې ورکوي يا دا چې د هغوی نور، ځلا او تجلا د مجاهدينو په ارادو او نفسونو کې شته؟ اوس ددې «اذا»ګانو په اړه او هغه شرايط چې په قرآن کې په نورو ځايونو کې له دې «اذا» ګانو سره بيان شوي؛ په اړه يې يو لړ اصولو او ځينو لواړو خبرو ته په لاندې توګه نغوته کوو:

۱ ــ د الهي نصرت متقابليت او دوه اړخيزوالی: د خدای تعالی ياري او مدد يو اړخيز او له پيليزې او مقدمې پرته نه دی، او تر هاغې چې په دې ډګر

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې وړتيا او قابليت ښکاره شوى نه وي، نه څرګندېږي قرآن بندګانو ته د خداى تعالى نصرت، خداى تعالى ته د بنده په نصرت پورې مشروط کوي او اعلاموي: وايي د خداى تعالى نصرت هغه مهال راځي چې تاسو له خداى سره نصرت وکړئ. فرمايي: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ» [محمد۷ (۴۷:۷)] اى هاغو کسانو چې ايمان مو راوړى دى، که د خداى [له دين او رسول] سره مرسته وکړئ، خداى هم له تاسو سره مرسته کوي او ستاسو ګامونه به استوار [او ټېکاو] کړي [= پښې مو ټينګوي، زړن او ټيکاو پلي به شئ] .

نو مؤمنانو ته وايي که تاسو له خداى سره مدد وکړئ، خداى تعالى هم له تاسو سره مدد کوي. څرنګه چې موږ پوهيږو خداى تعالى خو زموږ مرستې ته اړتيا نلري؛ نو دلته له خداى سره نصرت يعنې د خداى له بندګانو سره نصرت دى. خو کله چې تاسو دومره لټان او تن پالي او ډارن ياست کاغ او ځانساتي ياست، چا ته مرسته او نصرت نه رسوئ نو په کوم بنسټ او بنياد به تاسو ته ياري، مرسته او نصرت درکړل شي.

يا په بل ځاى کې فرمايي: «... وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ» [حج ۴۰ (۲۲:۴۰)] «... او په جوته توګه الله به [د حق او باطل په دې تاريخي جګړه کې] هرومرو له هاغو کسانو سره مرسته وکړي، چې له هغه سره [د ايماني حقيقتونو او بندګانو د حقونو په دفاع کې] مرسته کوي، بېشکه الله ناماتى ځواکمن دى.».

نو خداى تعالى هغه چا ته مرسته رسوي، چې له خداى سره مرستندوى وي، يعني هغوى چې د خداى له بندګانو سره مرسته کوي. نو، لومړى شرط يې دا دى چې دا يوه دوه اړخيزه رابطه او اړيکه ده: څوک چې د حق په لار کې فداکاري وکړي، ايثار وکړي، په غبرګون کې به الهي نصرت ورته شامل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲ ـ خدای ته د بندګانو نصرت، د هغه د رسولانو او مؤمنينو سره د يارۍ او مرستې رسولو پورې اړيکه لري ـ البته خدای تعالی له بندګانو څخه بې نيازه، قادر او قاهر دی، خو که له بندګانو ياري غواړي، مطلب يې د هغه له رسولانو او د رسولانو له پليونانو او ملګرو سره مرسته او ياري ده، البته خدای تعالی پخپله د خپلو رسولانو پر يارۍ او نصرت توانا دی خو غواړي په دې وسيله خپل بندګان وازموي او د ابتلاګانو او ازميښتونو په کوره کې هغوی پاخه او آبديده کړي او استعدادونه او دنني ځواکونه يې فعليت او ظهور، ښکارونې او بروز ته ورسوي او لوړ يې کړي. خدای تعالی له خپلو رسولانو سره ياري کول خپله ياري معرفي کوي او مؤمنين دا ډول نصرت ته رابولي. نو که پوښتنه وشي چې موږ څنګه کولی شو خدای تعالی ته نصرت ورسوو؟ خدای تعالی وايي زما نصرت د رسولانو او مؤمنينو په نصرت کې نغښتی دی: وايي ای مؤمنانو د خدای ياران او مرستندويان اوسئ؛ لکه څنګه چې عيسی(ع) خپلو حواريانو ته وويل: څوک د خدای په لارکې د خدای پر لور زما ياران او مرستندويان دي؟ او حواريانو وويل موږ د خدای ياران او مرسته کوونکي يو: « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنْصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللَّهِ ...» [صفّ۱۴(۶۱:۱۴)] «ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی د الله مرستندويان اوسئ لکه څنګه چې عيسی د مريم زوی حواريونو ته وويل څوک د الله پر لور زما ياران او مرستندويان دي؟ حواريونو وويل موږ د خدای ياران او مرستندويان يو...» نو، خدای تعالی ته نصرت ورکول، يعنې د رسولانو او مؤمنينو حمايت کول ملاتړ او تقويه کول دي. دا هم دويمه نکته.

۳ ـ د الهي نصرت بل شرط د هغه په لار کې د قتال لپاره چمتو کېدل دي ـ د خدای تعالی سره ياري او مرسته يوازې له دُعا او غوښتنو او توسل او تمسک سره تحقق نه مومي، د هغې لازم او اړين شرط د جهاد او قتال له

(c) ketabton.com: The Digital Library


لارې د هغه د دين له رسولانو او مؤمنينو د دفاع لپاره چمتو کېدل دي، په دې حالت کې الهي لاس د مجاهدو وګړو له لستوڼي راوتلی او دشمنان مغلوبوي: «قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ...» [توبه۱۴(۹:۱۴)] «له هغوی سره مقاتله [مبارزه] وکړئ چې خدای تعالی ستاسو په لاسونو هغوی عذاب کړي او هغوی به رسوا کړي او تاسو سره به د هغوی پر خلاف مرسته او ياري وکړي ....»، خدای تعالی فرمايي کوم دښمنان چې پر تاسو يرغل کوي او تاسو وژني، قَاتِلُوهُمْ له هغوی سره وجنګېږئ، خدای تعالی بايد ستاسو په لاسونو هغوی ته ماتې ورکړي. همدا راز الله تعالی فرمايي: «تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ.... وَأُخْرَى تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ...» [صفّ۱۱(۶۱:۱۱) او ۱۳] «[په دې سوداګرۍ کې] پر خدای او د هغه پر استازي ايمان راوړئ او له خپلو مالونو او خپل ځان سره د خدای په لار کې جهاد کوئ....او [پر اخروي نېمګرغۍ سربېره] هغه بل [دنيايي هدف] چې تاسو يې خوښوئ؛ [يعنې] د خدای مرسته او [پر دښمن] نژدې برى [درته په برخه کوي]،....»

د قرآن کريم په نورو ځايونو هم ددې ذکر له تفصيل سره شوی دی خو دلته يې له اجمال سره خلکو ته ستونزه نه وه چې ددې فتحې په ځرګوالي پوه شي: «...لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ أُولَئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِنَ الَّذِينَ أَنْفَقُوا مِنْ بَعْدُ وَقَاتَلُوا وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ.» [حديد۱۰(۵۷:۱۰)]. «[د هغه له لورينې او رحمت سره سره] پر تاسو څه شوي چې د خدای په لار کې انفاق [لګښت] نه کوئ؟ حال دا چې د اسمانونو او ځمکې ميراث يوازې د الله دی [= هغه ستاسو انفاق ته اړتيا نه لري]. هغوی چې تر بريا مخکې [جهاد ته د چمتو کېدو لپاره] انفاق او جهاد کړی دی، [له وروسته يو ځای شوو سره] برابر نه دي؛ د هغوی درجه ډېره اوچته له هاغو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کسانو ده چې له هغې [بريا] وروسته يې انفاق او جهاد کړی دی؛ او [له دې حال سره] الله هغوی ټولو ته [د هغوی د هڅو په تناسب] د غوره بدلې ژمنه کړې؛ او الله له هغه څه چې کوئ خبردار دی».

له پورتنيو آيتونو څخه څرګندېږي چې په واقعيت کې مؤمنان بايد د سختيو په منځ کې پاخه شي او ددې ورتيا پيدا کړي چې د حق له پليونی او پيروی سره د حق دښمنان ماتې ته مجبور کړي او لکه څنګه چې مو وويل؛ د خدای لاس بايد د مؤمنانو له لستوڼي راووځي.نو برخلاف ددې چې ځينې يې انګيري د خدای تعالی ذات پخپله نيغ په نيغه دخالت نکوي. دا هم دريمه نکته.

۴ ـ الهي نصرت پرله پسې له سختو او ستونزمنو پړاوونو وروسته را رسيږي ـ لکه څنګه چې وويل شول د خدای تعالی مرسته او ياري د وړتياو او قابليتونو په ظرف کې نازلېږي او د اخيستونکي د منښت او ظرفيت پر نسبت يې، کچه او ميزان تغيير کوي. پر دې بنا هر څومره چې چمتووالی او استعداد، هيله او تمنا، لېوالتيا او طلب يې ډېرتر وي او وړتيا او قابل ظرفيت يې پورته تللی وي، په هماغه کچه په مقابل کې يې فاعل ورته بهتر او ډېرتر عنايت کوي، او مرسته او نصرت يې کاملېږي او بشپړېږي. او څرنګه چې د انسان استعدادونه د ستونزو او سختيو په متن کې فعليت او قيام ته رسېږي [لقد خلقنا الانسان فی کبد ـ لقد خلقنا الانسان فی احسن تقويم] پر رسولانو او مؤمنينو د وارد شوو مصيبتونو او سختيو، او د الهي نصرت تر منځ يوه اړيکه او رابطه برقرارېږي، او دا د الهي لطف نهايت او پای ده داسې يوه بنده ته چې هغه يې د امتحان او ابتلاء، اوچتولو او پورته وړلو لپاره وړ او شايسته ګرځولی دی. دا ډول نه دی چې کوم مهال يو ملت وغواړي، همدا چې د حق په لار کې قيام وکړي، يو پل واخلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو ګام اوچت کړي سمدلاسه خداى تعالى ورسره مرسته وکړي. همدا چې لا څه شوي نه وي او ووايي موږ خو د خداى لپاره پيل وکړ، اقدام مو وکړ، خو د خداى مرسته رانغله، او ووايي؛ نو د خداى مرسته څه شوه؟ يوه ورځ وشوه، دوه ورځې وشوې، يوه اوه نې وشوه، دوه اوه نې شوي دي چې د حق لپاره راولاړ شوي يو او لا تر اوسه د خداى تعالى د نصرت او مرستې کوم درک نشته. دوى غواړي سمدلاسه په نابره توګه د حق نصرت ورته ورسېږي؛ نه، په دې ډول نه دى - وخت نيسې، خواري کول غواړي، زيار ايستل غواړي؛ يعنې دا چار د سختيو د زغملو، د هڅو او زيار غوښتونکى او مستلزم دى؛ يعنې الهي نصرت زموږ له وجوده بيرون کوم څيز نه دى. د حق نصرت بايد زموږ له دننه وخوټېږي. د خداى نصرت زموږ له دننه بېکې کوي او بيا الوت کوي، کوم بيروني چار نه دى.

البته امتحان او ابتلاء سخته ده؛ انديښنه، تشويش او بې خوبي راوړي، خو لوړ تولګې ته د پورته کېدو لپاره له دې پړاوه له تېرېدو پرته بله چاره نشته.

«حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا جَاءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَنْ نَشَاءُ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ» [يوسف۱۱۰(۱۲:۱۱۰)].

[منکرينو تر دې بريده ډګر د مؤمنينو لپاره تنګ کړ] **ترڅو چې استازي** [ د خلکو له ايمان راوړو] **نهيلي شول او** [خلکو] **ګومان وکړ، چې** [د مؤمنينو د نصرت او د کافرانو د عذاب په اړه] **دروغ ورته ويل شوي،** [په دې وخت کې استازيو ته] **زموږ مرسته ورسېده، نو موږ هر څوک چې وغواړو** [= وږ وګڼو] **ژغورو خو پرمجرمانوزموږد عذاب يرغل**[د هيڅ ځواک په توسه] **نه تمبول کېږي.**

يعنې دا ډول ستونزې او مصيبتونه پر مؤمنينو راغلل، تر دې کچې چې حتا د الله استازي [رسولان] له دې نهيلي شول چې نور به يې خلک خبره ومني، او هغوى ټولو خلکو دا و انګېرله چې دروغ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویل شوي دي! په سختیو او په ربړونو کې د هغوی له پخېدو وروسته د الله مرسته او یاري هغوی ته راغله. او الهي ذات چې هر چا ته وغواړي، یعنې هغوی چې وړتیا یې ومومي نجات ورکوي او د الله سخت قهر له مجرمینو او بې لارو څخه هیڅ مهال نه لېرې کېږي.

فرمايي: «وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلَى مَا كُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّى أَتَاهُمْ نَصْرُنَا...» [انعام۳۴(۶:۳۴)] «او بې له شکه تر تا مخکې رسولان هم [د خپلو هم مهالو په توسه] دروغجن ګڼل شوي، خو ددې انکار او ربړونو پر وړاندې یې صبر [او زغم] وکړ چې په پای کې زموږ نصرت هغوی ته ورسېد ...»

حضرت رسول (ص) ته الله تعالی فرمايي چې تر تا مخکې رسولان هم د هغوی د هم مهالو او د هغوی د خپلې زماني د وګړو لخوا دروغجن انګېرل شوي دي، خو هغوی پر هاغه څه چې دروغجن انګېرل کېدل صبر وکړ او د مخالفینو ربړونې او ځورونې یې وزغملې تر دې چې د الله مرسته او نصرت ورته راغی. یعنې د الله پر استازو او د هغوی پر پلیونانو ډېرې زیاتې سختۍ راغلي دي؛

«... مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ.» [بقره۲۱۴ (۲:۲۱۴)] «... هغوی ته داسې سختۍ او کړاونه ورسېدل چې ډېر سخت په لړزه پرېوتل، تر دې ځایه چې [حتا] پیغمبر او ورسره ملو مؤمنینو وویل: [نو] کله د خدای مرسته رارسېږي!؟ آګاه اوسئ چې د الله مرسته نژدې ده.»

رسول اکرم (ص) او ورسره مؤمنینو د کلونو په اوږدو کې ډېرې سختۍ او ربړونې وزغملې او په دې بهیر کې یې د زغم او وړتیاؤ په لاسته راوړلو سره ځای پر ځای الهي نصرت او مرسته نصیب شوې ده خو په پای کې ددې ټولو زیارونو او کړاوونو په پایله کې یې ستره فتحه او نصرت په نصیب شو چې په دې سورة [د «نصر» په سورة] کې ورته نغوته شوې، چې البته له ذکر پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلک پر دې پوهېدل چې په دې سورة کې د کوم نصـرت او فتحـې زيـرې شوی دی په لاندې آيت کې يې د مهاجرو مؤمنينو د صداقت په اړه ځرګنده نغوتـه کـړې ده: «لِلْفُقَـرَاءِ الْمُهَـاجِرِينَ الَّـذِينَ أُخْرِجُـوا مِـنْ دِيَـارِهِمْ وَأَمْـوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا وَيَنْصُـرُونَ اللَّـهَ وَرَسُـولَهُ أُولَئِـكَ هُـمُ الصَّـادِقُونَ» [حشـر۸(۵۹:۸)] «[او همدا راز غنيمتونـه] د هاغو مهاجرو د اړمنو لپاره دي چې لـه خپل ټاټوبي او خپله کوره او له خپلو مالونو اخراج شوي دي، [هغوی په هر راز شرايطو کې] د خدای فضـل او رضـايت غـواړي او [پـه دې توسـه] د خـدای [لـه دين] او د هغه له رسول سره مرسته او ياري کوي او همدوی دي چې [دايمان په ادعا کې] صادقان او رښتيني دي.»

۵ ــ الهي نصـرت يو جوت [، قطعي] او تلپاتې [، هميشګي] قانون دی ـ يعنې داسې نه دی چې يوازې د پيغمبر په زمانه کې د خدای تعالی نصـرت راته، او په ورپسې زمانو کې تم شوی وي. داسې نه دی چې د خدای مرسته او ياري ځانګړې او لنډمهالې وي، چې يوازې د تاريخ په برخليک سازو مهالونو کې وي او يوازې پيغمبرانو ته ځانګړې وي، دا قاعده عمومي او پر ټولو مؤمنينو شامله ده. البته له هر چا سره د ابتلاء او سختيو په نسبت د نصرت له شرايطو سره د انطباق په صورت کې مرسته او ياري کېږي او البته پيغمبران په دې ډګر کې د خدای تعای له تر ټولو مبتلاءترينو بندګانو څخه ول. «إِنَّا لَنَنْصُـرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ» [غافر۵۱(۴۰:۵۱)] «موږ له وټ او اړنګ پرته خپل استازي او هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی د دنيا په ژوند کې او په هاغه ورځ کې چې ګواهان راولاړېږي نصرت [اومرسته] ورکوو [په دنيوي امتحان کې او اخروي امتحان کې]».

«... وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ» [روم ۴۷ (۳۰:۴۷)] «... او د مؤمنينو يـاري او مرسته کول پر مـوږ حـق دی.» فرمـايي دا زمـوږ وظيفـه او دنـده ده چـې مؤمنينو ته نصرت ورکړو دا قانون موږ پخپله پر خپل ځان ليکلی دی. نـو تـل

(c) ketabton.com: The Digital Library


په مؤمنینو سره یاري او مرسته وشي. خو نه دا چې یوازې د مؤمن نوم یې پر ځان ایښی وي او پېژند پانېز مؤمن وي. د نصرت له تداوم او تلوالی ځخه په ځلونو په قرآن کریم کې یادونه شوې ده. چې په لاندې توګه د څو آیتونه ذکر کوو: «بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ» [روم۵ (۳۰:۵)] «الله په نصرت او یاری هر چا ته چې وغواړي مرسته او نصرت کوي او هغه عزتمن لورین دی». «... وَاللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهِ مَنْ يَشَاءُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ» [آلعمران۱۳(۳:۱۳)] ... او خدای تعالی له خپل نصرت سره هغه چا ته چې وغواړي تأیید او ملاتړ یې کوي په تحقیق په دې [مسئله] کې اندیالو او د لید خاوندانو ته پند دی. «مَنْ كَانَ يَظُنُّ أَنْ لَنْ يَنْصُرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ...»[حج۱۵(۲۲:۱۵)] هاغه څوک چې انګیري خدای تعالی هیڅکله په دنیا او آخرت کې له هغه سره نصرت نه کوي نو ...

٦ ـ د الهي نصرت څرنګوالی ـ : خدای تعالی څه ډول نصرت ورکوي؟ آیا یو شمېر ځیزونه، وسیلې یا کسان لکه پرښتې، یا نور ځیزونه له غیبه او له آسمانه راځي، او جنګېږي او له مؤمنانو سره مرسته کوي؟ ومو ویل چې د خدای نصرت زموږ په خپل وجود کې پنځیږي، او زموږ په وجود کې دننه وده کوي. فرمایي خدای تعالی به ستاسو روحیه تقویه کړي هغه داسې ذات دی چې آرامښت او ډاډ یې د مؤمنینو زړونو ته راولېږه یعنې دا ډاډینه او آرامتیا همدا ستاسو له خپله دننه دی د بدر او احد د جنګونو په اړه ډېر آیتونه شته چې وایي دا نصرت چې موږ تاسو ته درکړ، یو بشارت او زیرى وو چې له هغه سره ستاسو زړونه تقویه او ډاډمن شول.

نو کېدی شي د ځینو په اند داسې و انګیرل شي چې الهي نصرت نیغ په نیغه په خپلواکه توګه [مستقیماً او مستقلاً] د پرښتو په توسه عمل کوي او نابره په غیر عادي توګه د جنګ صحنه د مؤمنینو په ګټه تغییر مومي! په داسې حال کې چې دا بهیر په تدریجي توګه د مؤمنینو د قدمونو له تثبیت او پلونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټيکاو سره سرته رسېږي. په بله وينا له هاغې زړورتيا، جرأت او ټينګې روحيې سره چې مؤمنين يې د صلوة او صبر په مرسته پيدا کوي دوی پخپله، خپل دښمن مغلوبوي او د پرېښتو نقش په همدې قلبي بشارت او روحي تقويت او د قدمونو په تثبيت کې خلاصه کېږي:

«... رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ» [بقره۲۵۰(۲:۲۵۰)] «...پالونکی څښتنه، [زړور د وجود لوښی] له صبر [= مقاومت او ټيکاووالي] ډک کړه او زموږ ګامونه ټينګ کړه او موږ سره د کافرانو د ډلې په مقابله کې مرسته وکړه.»

«وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَنْ قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ»[آل عمران۱۴۷(۳:۱۴۷)] «او د هغوی وينا [=ددښمن سره په مقابله کې دعا] له دې پرته بله نه وه چې ويې ويل: پالونکيه ربه! ګناهونه [عوارض او اغېزې يې] او په چارو کې تېروتنې مو وبوښه [= نالېدلي يې ونيسه او ترې تېر شه]، [ د دښمن د يرغل په مقابل کې] ګامونه مو ثابت [او ټينګ] کړه [چې نه ولړزېږو او نه وډار شو] او پر کافرانو بريا را.»

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ» [محمد۷ (۴۷:۷)] «ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی که له خدای سره مو ياري او مرسته وکړه له تاسو سره مرسته کوي او ستاسو ګامونه استوار او ټيکاو کوي».

«هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ السَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ الْمُؤْمِنِينَ لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَعَ إِيمَانِهِمْ وَلِلَّهِ جُنُودُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا» [فتح۴ (۴۸:۴)] «(الله) هغه (ذات) دی، چې د مؤمنينو په زړونو کې يې [د جنګ په ډګر کې] ډاډينه [او آرامتيا] نازله کړه چې [پر خدای له توکل او د دښمن پر وړاندې له مقاومت سره] د هغوی پر ايمان، همداسې ايمان ورزيات کړي او [يقين وکړي] د آسمانونو او ځمکې لښکر [= په نړۍ کې برلاسي ځواکونه] يوازې د الله دي او الله پوه حکيم [= چار سمبالی] دی».

(c) ketabton.com: The Digital Library


«بَلَى إِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَـذَا يُمْـدِدْكُمْ رَبُّكُـمْ بِخَمْسَـةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ» «وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى لَكُـمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُـوبُكُمْ بِـهِ وَمَـا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ» [آل عمران۱۲۵(۳:۱۲۵) او ۱۲٦]

«هـوکې، کـه تاسـو صبر وکـړئ او [لـه نـا فرمـانی] پرهېـز وکـړئ او [دښـمنان کـه هـر څـومره] لـه همـدې سـختۍ او بيـړې سره پـر تاسـو يرغـل راوړي، ستاسـو پـالونکی څښـتن بـه تاسـو سره لـه پنځـو زرو نښـه شـوو پرښـتو پـه توسـه مرسـته وکـړي». «او اللـه دا [دپرښـتو د مرسـتې ژمنـه] تاسـو تـه لـه بشـارت [= د روحيـې تقويـت] ځخـه پرتـه څـه نـه ده او [هـم] ددې لپـاره چـې ستاسـو زړونـه [لـه بې تـابی] اطمينـان [= ډاډ او هوسـاينه] ومـومي،او نـه دی نصرت مگر د الله له لوري، چې ډېر غالب حکمت والا دی».

«إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّـذِينَ آمَنُـوا سَـأُلْقِي فِي قُلُـوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ...» [انفال۱۲(۸:۱۲)] «هغه مهال چې ستا پروردگار پرښتو ته وحی وکړه چې زه له تاسو سره يم نو هغه کسان چې ايمان يـې راوړی دی استوار او ټيکاو کړئ. ډېر ژر د کافرانو په زړونو کې وېره او ډار اچوو....»

پر دې بنا، کوم څوک يا کومه پرښـته لـه آسـمانه رانغلـه چـې لـه کفـارو سره وجنگېږي. الهي نصرت زموږ په خپل وجود کې دی؛ يعنې هـر څـه چـې دي پخپله له انسانه دي. کله چې انسان د خدای پر لور لاړ شي، نصرت يې له دننه خوټېږي؛ دننني استعدادونه يې چې بالقوه دي فعليت تـه اوړي. مخکـې لـه دې به چې له يوې څپېړې ډارېده، خو اوس خپل ټټـر ډال کـوي او د سلو کسانو سره د مقابلې لپاره ځي، جنگ ورسره کوي او له هېڅ شيز نه ډارېږي. دا له کومه د هغه په زړه کې راغلل؟ همدا د الله نصرت دی.

## کوم نصرت او بريا؟

هاغه څـه چـې مسلّم او جـوت دي دا چـې پيغمبـر(ص) او د هغـه پليونـانو او پلويانو ته الهي نصـرت او فتح او بريا يوازې يو ځلې په برخه شوی نـه دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانانو د تاریخ په شهادت مسلمانانو بې شمېره فتحې درلودلې دي او د قرآن په شهادت، الهي نصرت په ځلونو د بدر او حنین او ... نورو جنګونو کې هغوی ته په برخه شوی دی:

«وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ ...» [آلعمران۱۲۳(۳:۱۲۳)] «[بایـد هیـر یې نه کړئ چې] په تحقیق الله تاسو سره په بدر کې [په جګړه کې] مرسته وکړه په داسې حال کې چې [د دښمن د زیاتو وسلو او کسانو په مقابل کې] کمزوري واست....» «لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ...» [توبه۲۵(۹:۲۵)] « [که د ځان په اړه اندېښمن یاست] الله تاسو سره [د جنګ] په ډېرو ډګرونو کې مرسته کړې ده، له هغې جملې د حُنَین په جنګ کې،...» «إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ...» [توبه۴۰(۹:۴۰)] « که تاسو له هغه [= پیغمبر] سره مرسته ونکړئ، [پروه شئ] خدای له هغه سره په داسې حال کې چې [یوازې] له یو کس سره وو مرسته وکړه، کله چې کافرانو هغه [له مکې] وایسته، ...» «... هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ». [انفال۶۲(۸:۶۲)]. « ... هماغه دی چې ته یې پر خپله مرسته او پر [ملاتړ د] مؤمنانو ځواکمن کړې.»

پر دې بنا کومه پوښتنه چې مطرح کېږي داده چې د «إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ» آیة کوم نصرت او بریا ته اشاره لري. ځکه چې خدای تعالی، هم د حدیبیه صلحې ته «فتح» ویلې «إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا» [فتح۱(۴۸:۱)] موږ ستا لپاره ځرګنده فتحه پرانیسته.

ـــ او هم د خیبر بري ته: «لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا». [فتح۱۸(۴۸:۱۸)] په تحقیق سره الله له مؤمنانو راضي شو، هغه مهال چې دوی له تا سره [په حدیبیه کې] له هاغې یوې ونې لاندې له

(c) ketabton.com: The Digital Library


تـا سره بيعـت وکـړ، نـو [لـه دې کـار سره] هغـه ځـه يـې چـې د هغـوی پـه زړونـو کـې ول وپيژنـدل [= عمـلي تحقـق يـې ورکـړ]، نـو [لـه دې خاطره يـې] پـر هغـوی [د خطرونـو پـر وړانـدې] آرامتيـا او ډاډ نـازل کـړ او نـژدې فتحـه يې [په خيبر کې] ورته په برخه کړه.

نو په رښتيا کوم نصرت او فتحه ددې سورة تر نظر لاندې ده؟

وروسې آية ته له پاملرنې سره «وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَـدْخُلُونَ فِي دِيـنِ اللَّـهِ أَفْوَاجًـا» چې د خدای دين ته د خلکو ډلې ډلې داخلېدل ځرګندوي، داسې برېښـي، لکه څنګه چې مفسرينو هم ويلي دي، د نظر لاندې فتحه په اتم هجري کـال کې هماغه د مکې فتحه وه چې د نورو فتحو پيلامه شوه او د ستونزو د غوټې پرانېستلو او د خلکو د پرګنو د ايمان راوړلـو د خنـډونو لېرې کېـدلو لار يـې پرانېستله [دفتحې لغوي معنا]. د الهـي امـن د حـرم لـه پرانېسـتلو او لـه بُتـانو څخه د کعبې له پاکولو او له هغې څخه د مشـرکينو د لاس له لنډولو وروسـته، په تدريج د ټاپووزمې پاتې مشرکو قبيلو اسلام راوړ او پوځ پوځ د الله دين تـه داخل شول. که مخکينيو فتحو د لنډ مهال لپاره، په لږ حد کې د مقطعي بريا په توګه ډګر او شرايط برابرول، دې فتحې او بريا په يو ځلي توګه کار بشپړ کړ او کار يې يو خوا ته کړ. ښايي له همدې لامله په قرآن کې مخکينيو برياو تـه په نکره بڼه [فتحاً قريباً، فتحاً مبيناً] اشاره شوې او دې فتحې تـه پـه معرفـه او معهود بڼه له الف او لام سره [إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ]

نو دا هغه ځواکونه دي چې په سړي کـې ورو ورو وده کـوي. الهـي نصـرت، همدا ډول يو څيز دی چې پورته مو ورتـه نغوتـه وکـړه. چـې البتـه دا نـورې ډېرې تشريح ته اړتيا لري؛ مثلاً دا کوم الهي نصرت دی چې وايي يو مهال به راورسېږي؟ نو ډېری له مفسرينو او د نظـر خاونـدان چـې ددې آيـت پـه اړه اجماع لري دادی چې دا الهي فتح همدا د مکې فتح ده. پوهېږئ چې مکـه د عربستان د ټاپووزمې اصلي مرکز وو او کعبه هم د مسلمانانو لپاره ډېـره مهمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وه. او هم دا چې مکه د پيغمبر له رحلت څخه دوه درې کاله مخکې فتح شوه، فرمايي کله چې دا فتح، نصرت او برى راورسيد، وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا. او چې ودې ليدل؛ خلک پوځ پوځ د الله دين ته داخليږي، نو هغه مهال فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ نو ، تسبيح وکړه، د خپل پالونکي ښتن حمد دې ووايه وَاسْتَغْفِرْهُ او له هغه بښنه وغواړه. إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا. چې خداى تعالى ډېر ستر او ډېر ښه توبه منونکى دى.

وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا. دا د دغه ستر بشارت تر ټولو څرگند اړخ دى چې پورته ذکر شوى دى. د حضرت رسول اکرم(ص) له خپل قوم سره جگړه د دنيوي موخو لپاره نه وه، بلکې د الله د دين لپاره وه. هغه غوښتل چې د قريشو ټول مشران ددې امانت حق پر ځاى کړي چې د کعبې [بيت الله] په ښه د هغوى په لاسونو کې وه. که هغوى ددې لپاره چمتو نه دي نو بيا خو هغوى پر کعبې د ولکې درلودلو او د الله له دينه په جبر او ظلم د خلکو د مخنيوي حق نه لري. دغې مذهبي ځور او ظلم [چې قرآن هغه د فتنې له لفظ سره تعبير کړى] د پاى ته رسولو لپاره د مکې له فتحې سره سم د قريشو مشران تسليم شول او د اسلام دين يې د حضرت رسول له تائيد سره ومانه او ولسونه هم د خپل مشرانو له تسليمۍ وروسته ډلې ډلې د اسلام دين ته داخل شول، همدا خلک چې له مخکې به يو يو له ډار سره پټ راتلل، اوس ډلې ډلې، پوځ پوځ په زغرده او څرگنده توگه د اسلام دين ته داخليږي.

او په دې ترتيب «مکّه» له وينو بهولو پرته فتحه شوه او ددې عفوې او اسلامي رحمت جاذبې چې هيځکله يې له هغې دا انتظار نه درلود، په داسې ډول په زړونو کې اغيز وکړ چې خلک ډلې ډلې راغلل او مسلمانان شول او ددې سترې فتحې غږ د عربو په ټولې ټاپوزمې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وپېچل شـو، او د اسـلام آوازه پـه ټولـو ځـايونو کـې خپـره شـوه. او د اسـلام او مسلمينو موقعيت له هر لورې جوت او ټېکاو شو.

په څېنو روايتونو کـې راغـلي دي: کلـه چـې حضـرت رسـول(ص) د کعبـې د دوازې تر څنگ ولاړ وو ويې فرمايل: «لا أِلهَ أِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ وَحْدَهُ، أنجزَ وَعْدَهُ، وَ نَصرَ عَبْدَهُ، وَ هَزَمَ الأحْزابَ وَحْدَهُ، أَلا اِنَّ کُلَّ مال أوْ مَأْثَرَة أوْ دَم فَهُـوَ تَحْـتَ قَدَمَیّ هاتَيْنِ!...» «له الله پرته معبود نشته، يوازېنی دی، يوازې، په پـای کـې يې پر خپله ژمنه وفا وکړه، له خپل بنـده سره يـې مرسـته وکـړه او پخپلـه يـې يوازې ټولې ډلې ماتې کړې. ای خلکو! پوه شئ چې هر مـال، هـر امتيـاز او آغېز، هره وينه په تېر او د جاهليت په زماني پورې اړه لري، ټول زما تـر پښـو لاندې دي» [يعني نور له هاغو وينو چې د جاهليت په زمانه کې تـوی شـوي يا هاغه مالونه چې لوټ شوي دي، خبره ونکړئ او د جاهليت د زمـانې ټـول امتيازونـه او لوړتيـاوې باطـل شـوي دي، او پـه دې ترتيـب ټـولې پخـوانۍ ټولپاڼې (دوسيې) وتړل شوې].

دا ډېـره مهمـه او هيښـوونکي طرحـه وه چــې د عفـوې لـه عمـومي فرمـان سره مـل، د حجـاز خلـک يـې لـه شـخړيز، لنـډغرۍ او تيـاره تيـر وخـت څخه پـرې کـړل، او د اسـلام پـه رڼـا کـې يـې هغـوی تـه نـوی ژونـد وبابښـه، داسې ژوند چې پـه تېـر پـورې لـه اړونـدو شـخړو، پـه بشـپړه توگـه تـش وو. او دې چـار، پــه زښـته اوچتــه توگــه، د اســلام لــه پرمختــگ سره مرســته وکړه او زموږ د نن او سبا لپاره بهترين سرمشق او مثال دی.

که پاملرنه وکړو دلته څو پوښتنې مطرح کېدی شي؛ يوه دا چې څنگه وشـول چې خلک پوځ پوځ او ډلې ډلې د خدای دين ته داخل شول؟ بلـه داچـې، په داسې مهال کې چې دا ډول ځلانده بری حاصل شوی، پيغمبر ولـې بايـد استغفار وکړي؟ معمولا هغه چا ته چې سخت پړاو يې تېر کړی وي او په پايلـه کې يې برياليتوب لاسته راوړی وي د بېلگې په توگـه فـرض کـړئ درس يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوستي وي او لیسانس او ماستري یا دوکتورا یې کړي وي، ورته نه ویل کېږي اوس لاړ شه استغفار وکړه؛ بلکې هغه دې ته منتظر دی چې هغه ته خلک شاباسی او آفرین ووایي؛ پر دې بنسټ تمه خو داده چې خدای تعالی ووایي؛ ډېر ښه، آفرین، بارک الله، ډېر زحمت دې وایست، ډېرې ستونزې دې وګاللې په لاس دې برکت شه خو داسې نه فرمایي. ولې؟ یعنې په عامه توګه که په دنیوي چارو کې کله چې انسانانو کوم ستر کار سر ته رسولی وي مثلاً کوم انقلاب یې کړی وي یا په سیاست کې یې بریالیتوب لاس ته راوړی وي خوښۍ کوي جشنونه کوي زموږ خپل تاوبي ته وګورئ که څوک د لنډ مهال لپاره په سمه یا ناسمه توګه د دین یا دنیا په نامه د اغیارو او اجنسیو په ملاتړ په اصطلاح بریالیتوب لاس ته راوړي، ځواک او واکمنی ته ورسېږي تاسو یې وینئ چې څومره اتڼونه کوي جشنونه کوي ګډاګانې کوي چکچکې کوي هوایي ډزې کوي او پر خپلو دروغجنو بریالیتوبونو ویاړي خو حضرت رسول^(ص)^ ته د دومره ستر بري او سوبې سره سره وایي له ستاینې سره دې خپل رب په پاکۍ یاد کړه او له پالونکي څښتن څخه بښنه وغواړه؛ ولې؟ دې موضوع ته به په لاندې توګه د توضیح ورکولو کوښښ وکړو:

پاملرنه وکړئ د پیغمبر^(ص)^ د دعوت او بلنې په پیل کې، ډېر سخت شرایط ول او حاصل یې له کمې لیده ډېر لږ وو، سره ددې چې له کیفي لیده اوچت وو، هغوی چې هجرت وکړ فکر نه کوم له شپېتو اویا کسانو زیات ول، یا زیات نه زیات سل کسان؛ خو څومره سخت او ستونزمن کلونه پر هغوی تېر شول، څومره سخت شرایط یې تېر کړل؛

د مبارزې پایله همداسې ده چې نهضت کله داسې یو پړاو ته رسېږي چې یو دم په نابېره توګه ټاکونکی شي؛ نابېره د ځواک پله په بیړه تغییر کوي. هاغه بهیر هم چې په صدر د اسلام کې وو همداسې حالت یې درلود؛ یو ناڅاپه د تلې پله درنده شوه او پورته لاړه. نور نو خلک ډلې ډلې راتلل. پاملرنه وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library


په هاغو مهالونو کې خو انسانان ډېر د مطالعې او تحقيق اهل نه ول او په عربستان کې قبيلوي نظامونه حاکم ول او د قبيلې رئيس به چې کله د جنګ اعلام کاوه ټول خلک به بسيج کېدل او جنګېدل او که د قبيلې رئيس به سوله کوله، ټولو خلکو به هم سوله کوله؛ يعنې په هغه نظام کې ټول وګړي د قبيلې د رئيس تابع ول. لکه څنګه چې همدا اوس زموږ په زمانه کې هم خلک په ړنده پليونې او پلوی ځينې د نورو تابع دي.

د مکې له فتحې وروسته همداسې پېښ شول؛ يعنې د قبيلو رئيسان به راتلل او مسلمانان کېدل. نو يو ځلې به يوه قبيله چې مثلاً لس زره کسان ول هر لس زره کسان به يې مسلمان کېدل. البته دوی لا تر اوسه اسلامي زده کړه نه ده کړې، خو اوس همدومره چې فقط مسلمانان شوي دي او نور له مسلمانانو سره نه جنګېدل، نو په دې مهال کې دا آية نازل شو چې ډېر ښه، اوس چې دې وليدل خلک پوځ پوځ او ډلې ډلې د خدای دين ته داخلېږي، نو؛ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ. له حمد او ستاينې سره د پالونکي څښتن تسبيح وکړه او بښنه ترې وغواړه.

سره ددې چې دا آية په خپل ځان کې خو اړخونه لري مګر دوه اړخه يې ځانګړې اهميت لري لومړی دا چې د هاغې فرض پر لور لارښوونه کوي چې ددې فتحې او نصرت تر حاصليدو وروسته پر پيغمبر(ص) او د هغه پر امت او پليونانو لازم او اړين شوی دی؛ هغه دا چې د خوښۍ او وياړ پر ځای دې خلک د خپل رب تسبيح وکړي، د خپلو نارسيو او غفلت په اړه دې معافي او بښنه وغواړي او دا هيله او تمه دې ولري چې الله ډېر لورين او کريم دی. کوم بندګان چې د خپلو نارسيو، لټيو او غلفت په اړه د بښنې او عفوې لپاره الله ته رجوع کوي د هغوی لور ته له رحمت سره پاملرنه کوي؛ د کوثر په سورة کې فرمايي:«إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ.فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ.» [کوثر ۱(۱۰۸:۱)او۲] «موږ تاته کوثر عطاء کړ نو خپل پالونکي څښتن ته لمونځ وکړه او هغه ته قرباني وکړه». همدا راز دا آية ددې مسئوليت او ذمه واری د بيان لپاره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلی دی او هغه ددې فتحې او نصرت اړينه غوښتنه ده او ددغه څيز تعليم ورکوي چې خپل مسئوليّت ته بايد تل پاملرنه وکړي چې همدا د نعمتونو د بقاء او پايښت ضامن دی. بندګانو ته چې کله هم کوم نعمت حاصل شوی دی له هغه سره يو څه ذمه وارۍ او مسئوليتونه هم تړلي وي. تر هاغې پورې چې بنده خپلې ذمه وارۍ او مسئوليتونه سرته رسوي، پيروزوينې، لوړونې او نعمتونه ورته پرله پسې حاصليږي.

د ربّ له حمد او ستاينې سره تسبيح؛ د مرحوم طالقاني په وينا، د تسبيح عاليترين پړاو دی چې د هستۍ د عالم د ارباب له حمد او ستاينې او د هغه د ښکلا او کمال او د بې عيبوالي او بې نقصوالي پر نسبت له ليوالتيا څخه پيدا کيږي. د تسبيح عمل، په دې سمفوني [Symphony] کې مشارکت او د هستۍ د عالم په ستر ارکستر [Orchestra] کې مثبت نقش لوبول دي.

له حمد سره د ربّ له تسبيح څخه عاليتر، د ربّ العظيم په نوم تسبيح دي؛ «فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ» [واقعه۷۴(۵۶:۷۴) او حاقه۵۲(۶۹:۵۲)] «نو [د ښتن تعالی د برم او پرتم ښکارندو او په طبيعت کې نظم او تدبير ته په پاملرنې]؛ د خپل ستر پالونکي ښتن په نامه تسبيح ووايه [او پاك او سپېڅلی يې وګڼه] [= د هستۍ له نظام سره هم غږی، خپل مثبت نقش سرته ورسوه] ».

او همدا راز د ربّ الاعلی په نوم تسبيح دي؛ «سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى» [اعلی۱(۸۷:۱)] «د خپل ډېر اوچت او تر ټولو لوړپوړي پالونکي ښتن نوم دي [= نقش او ځواک] [په خپل اند، وينا او چلن کې له هر عيب او نقصه] پاک او سپېڅلی وستايه». چې په زړه او ليد کې د ربّ عظمت، عالي توب او ستروالی مجسم کوي د قرآنکريم په ډېريو آيتونو کې ويل شوي تسبيح وکړئ. «تسبيح» يعنې خدای تعالی بې عيب او بې نقص ګڼل؛ خدای تعالی پاک او سپېڅلی ګڼل. يعنې که له دې مخکې مو چې د خدای په اړه هر ګومان کاوه تاسو به ويل څه خدای! که خدای وای نو نه به يې پرېښودی

(c) ketabton.com: The Digital Library


مؤمنين دا ډول ووژل شي او ربړ او شکنجه ووينې، اوس اقرار کوم چې خدای تعالی پاک او سپېڅلی دی له دې چې د هغه په مشيّت کې د عيب او نقص گومان وشي. آيا همدا اوس هم ځېنې نه وايي دا لا څه ډول دنيا ده او ولې دا دومره بدبخته او بيچاره خلک په دنيا کې شتون لري! يو کس فلج دنيا ته راځي، يو نيم هم ړوند دنيا ته راځي. آخر ولې؟ دا کوم عدالت دی! په دې نړۍ کې يو شمېر ميلياردران دي او ځينې نور بدبخته نيستمن دي. زبرځواکان لگيا دي د نړۍ د خلکو بيخ وباسي؛ په دې جنگونو کې ووينئ چې څومره ډېر شمېر انسانان له منځه ځي. هوکې، کوم کسان چې دا څرگند او ظاهري څيزونهويني او نتيجه ترې اخلي چې؛ نو کوم خدای په دې منځ کې نشته [نعوذ بالله]، ځکه چې که وای، ددې شرونو او بې عدالتيو ممانعت او مخنيوی به يې کړی وای. سترگې يې يوازې ظاهر ته دي چې پوښتنه کوي دا نو کوم عدالت دی؟ دا څه عدالت دی چې يو بدرنگ دی او يو ښکلی، يو شتمن دی يو فقير؟ ځېنې ولې د هماغه پيدايښت له پيله بيمار دنيا ته راځي؟ دوی څه گناه کړې ده؟ نو له همدې په خپل زړه او خپل اند کې نتيجه اخلي او وايي: په دنيا کې عدالت نشته. خو دلته وايي او پاملرنه يې را اړوي چې؛ کله دې چې وليدل د زيار او هڅو په پای کې کار يو ځای ته ورسېده او په حاصل ورکولو يې پيل وکړ، نو؛ فَسَبِّحْ. دا هماغه د تسبيح له پړاوونو يو پړاو دی. دويم فرمايي په بِحَمْدِ تسبيح وکړه. «حمد» يعني ستاينه. د بېلگې په توگه کېدی شي يو مدير مو چې ډېر ښه کار هم کوي، خو ستاسو نه خوښيږي او د هغه په نسبت د ستايني حالت ونلرئ؛ دا منئ چې کار يې له نقص او عيبه خالي دی، خو بس ستاسو نه خوښيږي؛ «تسبيح له حمد سره» يعني له حمد او ستايني سره دي؛ يعني واقعاً او په رښتينې توگه د خدای ستاينه کوئ؛ له هغه سره علاقه او تړاو پيدا کوئ.

نو، لومړی تسبيح دي او ورپسې د رب تسبيح دي او بيا د رب حمد او تسبيح، يعني د هغه چا حمد دی چې ارباب دی، پالونکی څښتن دی، او څلورم پړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اعلی رب، یا د عظیم رب حمد او تسبیح دي. کله چې وایو سُبحانَ رَبِّـیَ الأَعلَی وَ بِحَمدِهِ یا سُبحانَ رَبِّیَ العَظیمِ و بِحَمدِه ، دا ټول د الله د نظام د بې عیب او بې نقص ګڼلو مختلف پړاوونه دي. یعني په برېښنده، روښانه او ساده ژبه وایو خدای تعالی او د خلقت نظام یې بې عیبه او بې نقصه دی. او وروسته د هغه په نسبت د ستاینې او هېښتیا حالت پیدا کوو؛ او پر سترتوب، عظمت، لوړتیا او متعالي والي یې پوهېږو او اقرار کوو.

نو په دې حال کې پیغمبر^(ص) ته فرمایي استغفار وکړه؟ یوازې دلته هم نه دی، ډېر ځایونه نور هم یې په قرآن کې پیغمبرانو ته ویلي، له هغې جملې څلور ځلې یې زموږ خپل پیغمبر ته، فرمایلي چې استغفار وکړي، یوازې خدای تعالی مطلق دی؛ له هغه پرته بل هیڅ موجود مطلق نه دی؛ خو له خاصو بندګانو سره د خدای تعالی رابطه د نورو په نسبت توپیر کوي. که ستاسو کوچنی زوی په کور کې هر کار وکړي تاسو د پلار او مور په توګه له هغه هیڅ انتظار نلرئ، دعوا ورسره نه کوئ، کومه غوسه ورته نه کوئ؛ کوچني ماشومان چې په کور کې هر کار وکړي پلار او مور یې له هغه دومره تمه نلري، وایي د هغوی عقل نه رسېږي؛ خو په دې نسبت چې سن یې هر څومره پورته ځي او وده ومومي، د مور او پلار انتظار تري ورځ تر بلې زیاتېږي. کله چې اولاد یې ستر شي او که مثلاً پوهنتون ته هم تللی وي او لوستی وي، هغه ته نه ښایي او ضرورت نشته چې کوم بد کار وکړي چې ترې ګیله وکړلی شي، بلکې یوازې همدا چې ټېلیفون ونکړي یا له مور او پلاره کوم خبر وانخلي، له هغه ګیله من کېږي. ظاهراً یې کوم بد کار هم نه وي کړی؛ که هره ورځ یې مثلاً زنګ واهه، او په دې منځ کې که یوه ورځ واټن پریوځي له هغه ګیله کوي. یا که مثلاً تش لاس مور او پلار ته راغلی وي، کېدی شي ترې خوابدي شي. ځکه چې له دوی انتظار لري چې مثلاً له یو ګل، یوې تحفې یا کوم بل څیز سره مور او پلار ته راشي. ووینئ هر څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې د انسان شعور پورته لاړ شي، بلوغ يې ډېرېږي، هيله او انتظار له هغه ډېرېږي، ځکه چې هغه اوس پوهېږي او اندنه کوي. پيغمبران هم د بشري ټولنې وده موندي، عاقلان او بالغان دي؛ خدای تعالی هم د نورو پر نسبت له هغوی ډېر انتظار لري؛ پر دې بنا کوم ايراد او ګوتنيونه چې هغوی ته کيږي داسې کوم ايراد او اعتراض نه دی چې د عامو خلکو په اړه نيول کيږي. ويلې يې دي: حَسَناتُ الأَبرارِ سَيِّئاتُ المُقَرَّبينَ [حديث] يعنې کوم کارونه چې د اَبرار [يعني د ډېرو ښو خلکو] لپاره ښه ګڼل کېږي د مقرّبينو لپاره بد ګڼل کېږي. ولې؟ ځکه چې له هغوی انتظار ډېر دی. د هاغو ډېرو ښو خلکو عمل د مقرّبانو لپاره د سيئاتو [ګناه ګانو] برخه ګڼل کېږي په قرآن کې، يو ځای کې – په يو له جنګونو کې، ظاهراً د حنين په جنګ کې – پيغمبر ته فرمايي شرايط دومره سخت شول چې «حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُواْ مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللّهِ»، چې حتا رسول او مؤمنينو وويل: نو څه وخت به دا د خدای نصرت رسېږي؟ يعنې شرايط داسې سخت او زيږه شول چې نوره چاره هېوکې نه ورسېده او حتا د رسول په زړه کې هم تېر شول چې د خدای نصرت به کله راځي؟ کله چې سرې ويني په مخکې يې، د سترګو لاندې يې، ټول ياران وژل کېږي، د يوه ورمېږ په توره ووهل شي، د يوه بل لاس غوڅ شي، د رسول الله د ټولو يارانو وينه لګيا ده تويېږي، نو دا خو طبيعي ده چې غوښتنه وکړي چې خدايه، نو څه وخت غواړې موږ سره کومک وکړې؟ دادی چې ورته اوس فرمايي نو کله دې چې وليدل پوځ پوځ لګيا دي د خدای دين ته داخلېږي، څه نو اوس استغفار وکړه. ځکه خدای تعالی ادا انتظار نه لري چې د پيغمبر په ذهن کې يې حتا يوه شبهه هم ګرځېدلې وي چې کله؟ الله ورته وايي: أَلا إِنَّ نَصْرَ اللّهِ قَرِيبٌ. [بقره ۲۱۴ (۲:۲۱۴)] آرام اوسئ چې د الله نصرت نژدې دی. کله چې پوښتنه کوو خدايا نو کله؟ ددې په څېر دی چې [العياذ بالله] موږ انګېرو چې د خدای تعالی عقل ورته نه رسېږي او موږ لګيا يو د هغه ترغيب او هڅونه کوو! خدايه ژر شه نور! لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library


شانته ژر، هله کنه موږ لګيا يو تول له منځه ځو. ددې په څېر دی چې موږ په مصلحت کې تر هغه زيات پوهېږو! تاسو ټول پاملرنه وکړئ؛ آيا همداسې نه دی؟ چې کېدی شي دا ډول دخالتونه او لاسوهنې په هر ځای کې ووينو.

حضرت علي (رض) فرمايي: که له الهي مشيّت څخه ډېر ناراضي يې، لاړ شه خپل ځان ته دې بل ربّ وټاکه! که له دې اربابه راضي نه يې، لاړ شه د يو بل ارباب پسې. که ته انګېرې چې د خدای عقل نه رسېږي يا سخت نيوی او ستغ دی، يا بې رحمه دی او لکه څنګه چې ته غواړې او انتظار لرې تاته نه دررسېږي، ډېر ښه، لاړ شه يو بل ربّ ځان ته غوره کړه؛ اصلاً د هغه له بنده-ګۍ استعفا ورکړه! ځکه چې ددې ټولو ګيلو او نا رضايتونو معنا داده چې زموږ عقل [نعوذ باللّه] له خدای تعالی څخه زيات رسېږي! مولوي وايي:

عاشقم بر قهر و بر لطفش به جدّ
ای عجب من عاشق اين هر دو ضد

هم د هغه پر لطف عاشق يم او هم يې پر قهر عاشق يم. سړی داسې يو ځای ته رسيږي خدای تعالی چې هر کار وکړي ښکلی او زيبا دی. اقرار کوي او دا مني چې زه خپل مصلحت سم نشم تشخيص کولی او هغه زما پر مصلحت تر ما ښه پوهېږي زما وده او رشد پر هاغو څيزونو پورې تړاو لري چې زما عقل هغوی ته نه رسيږي. د مولوي په مثنوي کې سلګونه له دې تشبيهاتو او تمثيلونو موندلی شئ. چې کېدی شي نورو ځايونو کې هم وموندل شي.

نو استغفار کول او د ښيني غوښتل له دې چې د خدای تعالی په حمد، ستاينه او د نعمتونو په شکر کې يې کوتاهي او قصورکړی دی د انسانانو هڅه او تالاش که هر څومره ډېر هم وي بيا هم اندک، ناڅيزه او محدود دی، او د خدای تعالی نعمتونه پرله پسې وريدونکي، څوښان او فرواوان دي....

«وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا...» « که [وغواړئ] د خدای نعمتونه وشميرئ، [هيڅکله] يې په شمېرلو وسمن نه ياست،...» [نحل ۱۸(۱۶:۱۸)].

(c) ketabton.com: The Digital Library


د يو ستر مثبت کار له سر ته رسولو وروسته پر يو بريالي انسان د خدای تعالی تسبيح او تقديس، حمد او منته پر دې اړينه او لازمېږي چې خدای تعالی پرې منّت ايښی او هغوی يې د خپلې بلنې او دعوت لپاره وړ او آمين ګڼلي. او همدا راز استغفار او د بښنې غوښتنه له هاغه کبره چې کله کله يې پر زړه غالبېږي، يا زړه ته يې له اوږدې مبارزې او اوږد رنځ او ربړ له ګاللو وروسته د بريا له خوښۍ او سرمستۍ سره زړه ته رخنه کوي. په ځانګړې توګه کله چې مبارزه اوږده شي او ياغي او طاغي دښمن د ډېر سخت ربړ او ځور څخه کار اخلي، او د ظالم دښمن د مبارزې په بهير کې د تلفاتو د رسېدو پرمهال د نصرت او مرستې له ځنډ او تأخيره شکايت کوي.

«أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ» [بقره۲۱۴ (۲:۲۱۴)] «آيا [تاسو مؤمنانو، له خپل ځان سره] ګڼلې مو ده [چې د ايمان په لفظي ادعا سره] به جنت ته داخل شئ!؟ حال دا چې لا تر اوسه [هاغه ازمېښتونه] لکه چې ستاسو پر مخکينيو راغلل تاسو ته نه دي رسېدلي؛ هغوی ته داسې سختۍ او کړاونه ورسېدل چې ډېر سخت په لړزه پرېوتل، تر دې ځايه چې [حتا] پيغمبر او ورسره ملو مؤمنينو وويل: [نو] کله د خدای مرسته رارسېږي!؟ آګاه اوسئ چې د خدای مرسته نژدې ده.»

دويم اړخ په دې آية کې دادی چې په دې کې حضرت رسول اکرم(ص) ته بشارت دی چې له دې فتحې وروسته به له دې ستري فريضې څخه په عزتمنه توګه ستا د فراغت او خلاصېدو وخت راشي او د نبوت درونه پېټی چې الله ستا پر اوږو ايښی دی او د ستونزو او ربړ په ګاللو چې ستا ټول ځواکونه او وجود يې زبېښلی او نښتېځلی دی په برياليتوب سره به دا دين تکميل شي او پيرزوينه او نعمت به يې بشپړ شي. په دې اړه چې حضرت رسول اکرم(ص) په دې لار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


څومره ربړ، زيار او ستونزې ګاللي په قرآن کې يې ورته د ډېرو آيتونه په توسه نغوته کړې. د پيغمبر(ص) د سختيو، ستونزو او ربړ د کچې معلوملو لپاره دا بسنه کوي چې په قرآن کې يې الله تعالى په مينه ناک او محبت وزمه انداز کې رتې او ورته فرمايي: «مَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَى» [طه۲(۲:۲۰)] موږ دا قرآن پر تا ددې لپاره نه دى نازل کړى چې [پر دې د منکرانو د باورمن کولو لپاره] خپل ځان په ربړ او مشقت کې واچوې.

نو په دې حالت کې د حضرت رسول اکرم(ص) لپاره تر دې بل ستر زيرى او بشارت نه وو چې د الله له لورې چې کومه دنده او رسالت ورته سپارل شوى وو له هغې په عزتناکه توګه فارغ شو. لکه څنګه چې په دې سورة کې يې حضرت رسول اکرم(ص) ته بشارت ورکړى دى او د کلام له مفهوم څخه يې څرګندېږي چې حضرت ته وايي: ته له خپل مسئوليت او ذمه وارۍ په برياليتوب فارغ شوې، نو ځکه يې په دې آية کې هغه ته د استغفار له هدايت سره سره د توّاب والي بشارت هم ورکړى دى د توّابٌ لفظ چې کله د الله لپاره راځي نو معنا يې داده چې هغه پر خپلو بندګانو ډېر لورانده او مهربان دى او د هغه له نارسيو او ښويدو تېرېدونکى دى.

## د حضرت رسول اکرم(ص) استغفار!

نو ددې سورة د پاى آية پيغمبر(ص) ته فرمان دى چې د الهي نصرت او فتحې تر رسېدو وروسته، تسبيح او استغفار وکړي. د پيغمبر(ص) د استغفار مسئله له دې چې د عصمت له نظريې سره ټکر پيدا کوي، مفسرين يې راز راز توضيحاتو او توجيه ګانو ته ناچار کړي دي چې د تفسير په کتابونو کې راغلي دي، البته دا يو مورد نه دى چې پيغمبر ته دا ډول دستور او فرمان ورکړل شوى دى، د استغفار مسئله په نورو موردونو کې هم چې غالباً د نصرت

(c) ketabton.com: The Digital Library


او فتحې په اړه دي د شخص رسول اکرم(ص) په اړه په قرآن کې مطرح شوي دي. څرنګه چې موږ مخکې د فتح سورة په تشريح کې دا مسئله پوره شرح کړې ده، دلته يې د بيا له سره توضيح څخه ډډه کوو او د هغې مطالعې ته د مينه والو او لېوالو او څېړونکو لوستونکو بلنه کوو. دلته يوازې په لنډه توګه ورته نغوته کوو؛ د فتح سورة په پيل کې الله تعالى فرمايي: «إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا. لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا» [فتح۱ (۴۸:۱) او ۲]. بې له شکه موږ څرګنده سوبه[او هغه ته د رسېدو لار] تاته پرانېسته. چې الله تاته ستا د مخکې لېږل شوو کړنو پايلې [= د تېرو کړنو منفي پايلې] او د هاغو کړنو پايلې چې په څنډ راځي [=دهغوى زنځيري غبرګون] درته و پوښي [= وبښي او ختنې يې کړي] او خپل نعمت پر تا تمام کړي او تا سمې لارې ته هدايت کړي.

اصولا د انبيائو په اړه د قرآن لحن د تمجيد او تجليل او تعظيم څخه زيات د تذکر، تنبيه او حتا په ځينو موردونو کې د توبيخ لحن لري!

د اسلام د مکرم رسول(ص) په اړه پر دې سورة سربېره، په پنځه شپږو نورو سورتونو کې هم هاغه مکرم رسول ته - د هغه له ستر مقام سره سره - امر په استغفار او توبې شوى دى «... وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ...» [محمد۱۹ (۴۷:۱۹)] «... او د خپلې ګناه [له اغيزو او ګډوډيو] او د نارينه او ښځينه مؤمنانو لپاره بښنه وغواړه ...»، « وَقُلْ رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ» [مؤمنين ۱۱۸(۲۳:۱۱۸)] «او ووايه: پالونکيه خښتنه! و مې بښه او [رابانديې] ولورېږه او ته خورا غوره لورووونکى يې.»، «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ...» [تحريم ۸ (٦٦:٨)] «اى هاغو کسانو چې ايمان مو راوړى دى، له خلوص سره په نره توګه د الله لور ته ستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


شـيئ...»، «وَاسْتَغْفِرِ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا» [نساء ١٠٦(۴:۱۰٦)] «او لـه الله بښنه وغواړه؛ چې په رښتيا الله لورين بښونکی دی.»، «لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ...» [فتح ٢ (۴۸:۴۸)] «چې الله تاته ستا د مخکې لېږل شوو کړنو پايلې [= د تېرو کړنو منفي پايلې] او د هاغو کړنو پايلې چې په څنډ راځي [= د هغوی زنځيري غبرګون] درته و پوښي [=وبښي او خنثی يې کړي]...» او «...وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ.»[غافر ٥٥ (۴۰:۵۵)] «او [او د خدای د مرستې لپاره په بيړه او بېتابۍ کې] د خپلې ګناه لپاره بښنه وغواړه او د شپې پر مهال او ګهيځ کې د خپل پالونکي ښتن له پاکۍ سره د کمال په ستاينه بوخت اوسه.». سربېره پر دې نور ګواښونه لکه: «عَفَا اللَّهُ عَنْكَ ... » [توبه ۴۳ (۹:۴۳)]، «الله دې تا وبښي؛...» «يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ...» [تحريم ١(٦٦:١)] «ای پيغمبره، ولې هاغه څه چې الله درته حلال ګڼلي، پر ځان حراموې؟...»، «يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ...» [احزاب ١(٣٣:١)]« ای پيغمبره، د الله پروا لره او له کافرانو او منافقانو اطاعت مکوه...» او داسې نور ډېر مثالونه...چې د رشد، ودې او کمال او ډېرې پاکۍ لپاره د تذکر او هشدار له طريقه، هغه حضرت ته د خدای تعالی په ځانګړې پاملرنې دلالت کوي.

همدا راز په قرآن کريم کې، د نورو پيغمبرانو په اړه په ځلونو ويل شوي او زموږ د پيغمبر په اړه هم ځای په ځای راغلي دي؛ او حضرت پيغمبر(ص) ته فرمان ورکړل شوی دی چې: فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ د خپل پالونکي ښتن پر حکم دې صبر وکړه. وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ [قلم ۴۸ (٦٨:۴۸)]، د حُوت د

(c) ketabton.com: The Digital Library


خاوند او ملګري؛ [یونس(ع)] په څېر مه اوسه، إِذْ نَادَى وَهُوَ مَكْظُومٌ. چې په غوسه شو او پرېښودل يې، لاړ او زغم يې ونکړ. پیغمبر(ص) ته فرمايي چې پوهېږم چې زړه دې ددوي له په شرک ککړو خبرو ډېر ناخوالي او غمګين دی چې دوی يې کوي؛ تا ډېر رنځوي: وَضَآئِقٌ بِهِ صَدْرُكَ أَن يَقُولُواْ؛ [هود۱۲(۱۱:۱۲)] پوهېږم چې ددې خبرو زغم پر تا ستونزمن دی او پر زړه دې ډېر زور راوړي او زړه دې تنګوي؛ خو فرمايي چې دوی زموږ بندګان دي او موږ هغوی ته د دين په قبول او رد کې اختيار او آزادي ورکړې ده؛ اوس که د دوي زغم درته ډېر سخت دی، لاړ شه په ځمکه کې د اخوا وتو لپاره سوری وکنه يا أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَاء فَتَأْتِيَهُم بِآيَةٍ يا پوړۍ کېږده او آسمان ته لاړ شه ووينو چې کولی شې کومه معجزه راوړې!؟ فَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ الْجَاهِلِينَ. [انعام۳۵ (۶:۳۵)] نو، له جاهلانو مه اوسه. که موږ غوښتلی کولی مو شول داسې يو کار وکړو چې په اجبار ټول ايمان راوړي. اصلاً شيطان ته به مو رخصت ورکړی وای چې څو ورځې بل ځای ته لاړ شي او هر څيز پاى ته ورسېږي. ورپسې فرمايي دا ټول پخپله يو مشيّت لري. د نظامونو او الهي قوانينو غوښتنه او اقتضا ده چې انسانان خپله لار پخپله انتخاب او غوره کړي. چې هم وکولی شي «اسفل سافلين» ته سقوط وکړي، او هم وکولی شي «اعلی علّيّين» ته صعود وکړي. دا دواړه چې نه وي کوم کمال نه حاصلېږي. انتخاب پخپله له دوی سره دی او هر عمل يې له خپل انتخاب سره مل دی. نو وايي استغفار وکړه چې إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا. يعني د خپل رب په درشل کې دعا وغواړه استغفار وکړه ښښنه وغواړه چې کومه دنده يې چې تاته سپارلې وه د هغې په سرته رسولو کې چې که له تا کومه سهوه، اشتباه او بې صبري شوې ده چې له هغو تېر شي او ښښنه درته وکړي. دا اسلامي ښوونه او روزنه ده چې انسان ته يې ورکوي او په هره کچه چې انسان بلاغت او تکامل ته رسېدلی وي په هماغه کچه ترې زياته هيله او تمه کېږي، او که دې موضوع ته له بل اړخه پاملرنه وکړو انسان که په هره کچه تکاملي پړاو کې وي بيا هم بشپړ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی ځکه چې انسان که هر څومره تکامل وکړي بيا هم انسان دی او لا تکامل او بشپړتيا ته اړتيا لري.

نو کوم انسان چې د الله د دين او د هغه په لار کې که په خپل زړه هر څومره ستره دنده سر ته رسولي وي، د هغه په لار کې يې که هر څومره قرباني ورکړي وي، د هغه په زړه کې کله هم نه ښايي داسې خيال راشي چې پر ما چې زما د پالونکي څښتن کوم حق وو هغه مې په پوره او بشپړه توګه اداء کړی دی، بلکه هغه بايد تل دا وانګيري چې څه چې ما ته کول پکار ول هغه ما ونشو کولی، او هغه ته له الله څخه دا دعا غوښتل پکار دي چې ای الله؛ ستا د حق په اداء کولو کې چې کومې کوتاهۍ او نارسۍ له ما شوي دي له هغې ماته تېر شه او زما نيمګړی خدمت قبول کړه. دا ادب چې که رسول الله(ص) ته ورښوول کېږي هاغه چا ته چې د الله په لار کې د هغه د بې کچې زياتې هڅې او زيار ايستلو په مقايسه د بل کوم انسان په اړه حتا تصور هم نشي کېدلی، نو بل څوک دا تصور هم نشي کولی چې هغه خپل کوم عمل ستر عمل وګڼي او وياړ پرې وکړي او پرې غره شي چې د الله کوم حق چې پر ده وو هغه يې ادا کړی دی. په داسې حال کې چې د الله حق له دې ډېر زيات پورته او اوچت دی چې کوم مخلوق يې ادا کړلی شي. د الله تعالی دا فرمان د تل لپاره مسلمان ته درس ورکوي چې خپل کوم عبادت او هڅه او د دين په لار کې کوم خدمت بشپړ څيز مه ګڼئ، بلکې د الله په لار کې د خپل ځان له قربانولو وروسته بيا هم داسې و انګېرئ چې «حق خو دادی چې حق ادا شوی نه دی» ـ پر دې ترتيب چې که دوی ته کومه فتحه او بری نصيب هم شي، هغه دې خپل کمال نه بلکې د الله د فضل نتيجه وګڼي او پر هغې د وياړ او فخر او پر غرور د اخته کېدو پر ځای ښايي د خپل پالونکي څښتن پر وړاندې له عاجزۍ سره سر ټيټ کړي او د خپل رب حمد او تسبيح وکړي او توبه او استغفار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بشريّت پر خدای د ايمان په رڼا کې په دې ډول هسکتيا مومي او اوچتېږي، او په دې ډول ځلانـد او برېښـند کېـږي او پـه الـوت راځـي، او همـدا راز ستروالي، ځواک او آزادی ته رسېږي.

پـر دې بنـا د تقـوا لـه ځـواک سره شـونی دی انسـان پورتـه لاړ شي او لـه ايـمان او صـالح عمـل سره «اَعلَـی عِلّيـيِّن» تـه ورسـېږي. اللـه تعـالی وايـي مـا تاسـو تـه دوه ډولـه اسـتعدادونه درکـړي دي، يعنـې دوه آگـاهۍ: هـم تقـوا او هـم فجـور. چـې لـه کفـر او تکـذيب سره «اَسـفَلُ سَّـافِلِين» تـه رسېږو . چې هاغه يو يې د توحيد لور دی او دا بل يې د شرک لور.

د سورت په پای کې دې نتيجې تـه رسـېږو چـې لکـه د هر څيـز پـه څېـر د انسان عمر هم پای ته رسېدونکی دی.

انشـاءالله خـدای تعـالی دې توفيـق راکـړي چـې هـر څـومره ډېـر چـې کيـدی شي ددې سـورت لـه پيغـامونو گټـه واخلـو او خپـل ځانونـه لـه دې پيغامونو او الهي نظامونو سره چې مقرر کړي يې دي، منطبق کړو.

پالونکی څښتنه! ته قادر يې چې يو ځل بيا مسلمانانو ته هغه پخوانی عظمت او سترتوب دحضرت رسول اکرم(ص) سنتو ته د اقتدا او له هغه د پليونی په رڼا کې بيرته راوگرځوې.

لويــه خدايــه! مــوږ د اســلام د پيغمــبر(ص) لــه رښــتينو يــارانو او مرستندويانو په ډله کې وگوماره.

بــار الهــا! مــوږ تــه توفيــق مرحمــت کــړه چــې د اســلامي عــدل واکمنــي پــه داســې ډول پــه نــړۍ کــې خپــره کــړو چــې د نــړۍ خلک پوځ پوځ هغه د زړه له تله پر خپل ځان ومني.

صَدَقَ اللهُ العَليُّ العَظِيمُ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**یادونه:** ددې تشریح د لیکلو پر مهال لاندینیو سرچینو ته هم مراجعه شوې ده:


۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان لیکنه

۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري لیکنه

۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب لیکنه

۴ ـ تفهيم القرآن ـ د مولانا سید ابوالاعلی مودودي لیکنه

۵ ـ تدبر قرآن ـ د مولانا امین احسن اصلاحي لیکنه

٦ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرگان

۷ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي لیکنه

۸ ـ کابلي تفسیر [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبيراحمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله

۹ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني لیکنه

۱۰ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مكارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي لیکنه

۱۱ ـ تفسير نور ـ د مصطفی خرمدل لیکنه

۱۲ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي لیکنه

۱۳ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني لیکنه

۱۴ ـ ترجمه تفسير طبري ـ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح

۱۵ ـ تفسير ابن كثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن كثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي

١٦ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع لیکنه

۱۷ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي

۱۸ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی

۱۹ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين کشاف

۲۰ ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)

۲۱ ـ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني لیکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده

۲۲ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدين حکمتيار لیکنه

۲۳ ـ تفسير دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لیکنه

۲۴ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری لیکنه

۲۵ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لیکنه

۲٦ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي لیکنه

۲۷ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۸ـ شرحي بر سوره هاى قرآن ـ عبدالعلي بازرگان ـ د عبدالعلي بازرگان وېب پاڼه [bazargan.com]

۲۹ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.

۳۰ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز

۳۱ ـ روح المعاني فى تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانى ـ العلامه ابى الفضل شهاب الدين محمودالالوسى البغدادي

۳۲ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولانا حسين علي

۳۳ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقى البروسوى

۳۴ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي

۳۵ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري

۳٦ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوى محمد ظاهر اسدالله مکي

۳۷ ـ تفسير الفخرالرّازى المشهور بالتفسيرالکبير و مفاتيح الغيب، امام محمد الرازى فخرالدين

۳۸ ـ التّفسيرالمبين ـ دوکتور عبد الرحمن بن حسن النّفيسه

۳۹ ـ تفسير قرطبى ـ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پيرمحمد کرم شاه

۴۰ ـ المفصل في تفسيرالقرآن الکريم ـ المشهور بتفسيرالجلالين ـ للامام جلال الدّين المحليّ والامَام جلال الدِّين السّيُوطيّ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**